په آلمان کې د افغانستان د وېشلو په اړه

په نیدرلند کې د افغاني کلتوري ټولنې غبرګون

د ۲۰۱۲ میلادي کال د جنوري میاشتې ۸ نېټه

درنو هېوادوالو!

په برېښنا پاڼو کې داسې څرګندونې خپرې شوې دي، چې ګواکې د آلمان ملک د برلین په ښار کې د فیدرالي سیستم په بڼه د افغانستان د وېشلو یوه پټه غونډه رابلل شوې ده، چې په دغه غونډه کې د افغانستان د شمالي او مرکزي سیمو په استازیتوب یو شمېر زورواکان او په جنګي جرمنو تورن افغاني لاسپوڅي وګړي ورته رابلل شوي دي، چې د افغانستان د وېشلو په اړه ورسره ژمنې او یا هم د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې د میکانیزمونو په اړه خبرې وشي.

له معلوماتو سره سم د دغه ډلې غړي د آلمان د عیسوي ډیموکراتیک ګوند یا کریستینې ډیموکراتانو لخوا په پټه رابلل شوي دي، چې د دغه بې انصافه غونډې معلومات یې حتی له خپلو ګوندي غړو نه هم پټ ساتلي دي، ځکه چې د عیسویانو ډیموکراتیک ګوند په برېښناپاڼه کې هم د دغه پټې غونډې په اړه معلومات نه دي خپاره شوي. د دغه غونډې پټې څېړې د افغانستان د دېرش کلن ناورین هغه بربنډه څېرې دي، چې د افغان ولس په وینو یې لاسونه سره دي، چې د دوی د ظلمونو په پایله کې د لیلا په دښته کې، د کلایې جنګي په سیمه کې، د کابل په پوهنتیو کې او د افغانستان په هر ګوټ کې د افغان ولس د قربانیو په وینو غاټول روزل کېږي.




د افغانستان په وروستیو څو لسیزو کې د افغان ولس د اېل کولو، مري کولو او بربادلو په اړه ډېرې هلې ځلې شوې دي، چې نه زموږ ګاونډیو ملکونو پر افغانستان رحم کړی او نه هم نړیوالو ځبرځواکنو، چې نن سبا صلیبي ډلو هم د افغانستان د وېشلو لپاره لېچې رانغښتې دي او دا دي د صلیبي جګړې لسیزه هم پوره شوه او لویدیز ځبرځواکونه هم له تېښتې سره مخامخ دي، ځکه نو د غچ اخیستنې په پلمه یې په سیاسي کړیو کې د فدرالي سیستم تیوري رامنځ ته کړې او له یو شمېر لاسپوڅو افغانانو سره یې لاسونه د افغانستان د نورو بدمرغیو لپاره یو کړي، چې افغان ولس د تل لپاره لکه د ډیورنډ کرښه په یو بل ټولنیز ناسور آخته کړي، چې دا دي د ډیورنډ له کرښې له یوې پېړۍ هم زیاته موده کېږي چې د افغاني ټولنې د پرهارونو وینې څڅېږي!

د افغانستان د وېشلو پلان نوی نه دی. د ۱۹۸۹ میلادي کال د فبروري له ۱۵ نېټې، چې روسانو له افغانستانه پښې سپکې کړې، نو هغه مهال یې هم د افغانستان د وېشلو سناریو پلې کړه، چې په شمال کې یې شورای نظار رامنځ ته کړه، د جنبش ملي د جوړولو پېلامې یې راوخوځولې او د حزب وحدت سره یې دغه ډلې متحدې کړې، چې پایله یې په نویمو کلونو کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سوله ییز پلان شنډېدل ول، د افغانستان د اداري سیستم او افغاني واکمنې

له منځه تلل وو او په افغانستان کې د لکهاوو خلکو د وينې تويېدل وو، چې يوازې په کابل کې له ۸۰۰۰۰ ډېر انسانان ووژل شول.

په نيدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه په دې اند ده، چې افغانستان يو نه وېشېدونکی هېواد دی او د افغانستان ټول وګړي پرته له تعصبه د دغه هېواد وګړي دي او مساوي حقوق لري. د افغانستان ټول وروڼه قومونه پرته له دې چې په يو ټولنيز چاپېريال کې ژوند کوي، نو له يو او بل سره د دين، وينې او مينې په رښکی هم سره وصل شوي دي او ټول يو ګډ افغاني ذهنيت هم لري، ځکه نو د افغانستان په اړه د دا ډول مغرضانه غونډو جوړول به د افغان ولس کرکه د يرغلګرو ځواکونو پر ضد نوره هم پياوړې کړي، د افغانستان ننني سوله ييزو هلو ځلو ته به دا ډول لاسوهنې نه جبرانېدونکی زيان ورسوي او په راتلونکي کې به په افغانستان کې د ټولنيز تاوتريخوالي سبب وګرځي.

موږ په دې اند يو چې په افغانستان کې د فدارلي سيستم تيوري يوه نا معقوله بې بنسټه او نه پلې کېدونکې تيوري ده. افغانستان يو موټی، نه بېلېدوکی او د وروڼو قومونو هېواد دی. د افغانستان وګړي به تر پايه د خپل هېواد د ملي ارزښتونو لپاره سره او توده مبارزه وکړي او پرې به نږدي، چې زموږ هېواد لکه يوګوسلاويا او يا د بالکان سيمه غونډې زخمي شي او زموږ هېواد هم په ټوټو ووېشل شي، يو او بل ټبر يې تجريد او يا ورټل شي او يا هم زموږ په لرغوني هېواد کې د دوښمنانو د سياسي لوبو د لاسوهنو زمينه ورته برابره شي.

په نيدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه په دې اند ده، چې د افغانستان ټول متدين خلک، علما، سياسي کارپوهان او اشخاص د آلمان د عيسوي ډيموکراتانو د دغه ناوړو هڅو په اړه په زغرده غبرګون وښيي او د خپل ګران هېواد افغانستان د ټوټې کېدو مخنيوی وکړي. موږ په دې ډاډه يو، چې افغانستان هېڅکله نه وېشل کېږي، مګر په خپلو هلو ځلو بايد د افغانستان د وګړو د قرباني د بربوکی مخنيوی وکړو، ځکه لويديز يرغلګر له خپلې تېښتې سره غواړي په افغانستان کې هغه څه په ميراث پرېږدي، چې د شوروي اتحاد واکمنو په افغانستان کې په نويمو کلونو کې تر سره کړي وو.

د يو موټي، خپلواک او سمور افغانستان په هيله

و من الله التوفيق

په نيدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه